# د خوشحال خان  خټک ائيډيل "بشپړه سړے"
# تحقيقي او تنقيدي مطالعه
# The ideal character of Khushal Khan "Ample Man"
# A research and critical Study

* Sajjad Elahi

** Dr. Shakeel Ahmad

## Abstract:

The knowledge and wisdom have always enabled human race to bring into light the ideas that enlighten the upcoming races. The "man" has always remained the nucleus of all ideologies. "Adam", "Super Human", "Mard-e-Mumin" and "Faqir" are such terms introduced in literature to explore the characteristics of an "Ample Man".

This research paper , I intend to complete about the "Ample Man" in the poetry and prose of the "Father of Pashto", Khushal Khan Khattak. Khushal Khan Khattak has used the terms of "Da Destaar Sarrey" (Man of turban), "Nangyalay" (Hero), "Mard" (Man) and has elaborated its characteristics in his poetry. These characteristics are very natural, vital and logical. We witness no supernatural and paranormal things in his "ample man". It always remains in touch with its land, its surroundings, its society and its nation. The "indigenous" factor is abundant in his "Ample man".

د نړۍ پهٔ هر تهذيب او هر قام کښې چې نابغه خلق زيږېدلي دي نو د خپل فکر پهٔ پلوشو ئې د انسان بقا ته رڼا ورکړې ده ـ د نابغه دغه تسلسل کهٔ مونږه وړومبي باشعوره انسان آدم نه شروع کړو نو ډېر کم انسانان داسې پېدا کيږي چې پهٔ يو نا يو حواله ئې نوې خبره مخې ته راوړې ده او د کائناتو غوټې ئې د انسان د پاره اسانې کړې دي ـ د شعور دغه ارتقا نن هم روانه ده او د انسان د بقا د پاره ئې هڅې روانې کړې دي ـ پهٔ دغه نابغه کښې ځينې انسانان د مذهب تصور پهٔ يو ډول وړاندې کړي ، ځيني د انسان د مادي ژوند د پاره سائنسي لار کښې خپله ونډه واچوي ولې ځينې يا ډېر نابغه د دغې هر څهٔ نه پرته د انسان د ټولنيز ژوند د بقا او د اصلاح د پاره خپل فکري جهت وړاندې کړي چې مونږه ورته پهٔ اسانه او ساده معنه کښې فلسفيان وايو ـ هسې خو کهٔ وکتل شي د کائناتو هر راز د فلسفيانو پهٔ وساطت سائنس ته اسان شوے دے يا داسې به ووايو چې سائنس د فلسفې پېداوار دے ـ خو کهٔ سائنس دے او کهٔ فلسفه ده پېدا له انسانه دي او دغه انسان پهٔ ټولنه کښې ډېر کم پېدا کيږي ـ لکه رحمان بابا وائي چې !

---

* PhD Sculler Deportment of Pashtu UOP

** Lecturer  Deportment of Pashtu UOP

”جو دانه قدرې یو لعل پکښې پیدا شي
نور جهان واړه د تور کاڼو غر دے“[1]

## د بشپړه سرې لفظي مفهوم:

زمونږه موضوع هم دغه د ټولنې پۀ اړه ده چې ځنې نابغه د یو ښۀ انسان د پاره یو ائیډیل کردار پۀ خپل فکري نچوړ کښې راوړے وي کوم چې د انسانانو د پاره د لارې بل مشال وي ـ هره ټولنه هر قام او هر تهذیب هم دغه ائیډیل کردار د ځان د پاره پېشوه ګرځوي کوم چې د عمل د لارې پۀ انسان کښې د خېر ماده لټوي او د ټولو انسانانو نفسیاتي برترئ ته وده ورکوي ـ دا مهال مونږه د نابغه خوشحال ”بشپړه سړے“ پۀ لفظي معنو کښې رڼوو چې سپیناوے ئې وشي ـ

ما د خپلې مقالې د پاره د خوشحال خان خټک د ”بشپړه سړي“ انتخاب کړے دے ـ ”بشپړ“ د پښتو لفظ دے چې د افریدو ، شینوارو او ملا ګورو پۀ سیمه کښې پۀ اولسي طوګه استعمالېږي ـ ولې پۀ معنه کښې د فراخوالي له خوا مجموعي طور پۀ کتابونو کښې عام استعمالولے شي ـ د بشپړ معنه کۀ مونږه کوو نو پۀ انګرېزئ کښې به د AMPlE او پۀ اردو کښې به د ’جامع‘ معنه ورکوي ـ خو پۀ پښتو کښې دغه ”بشپړ“ لفظ د پښتو لغت دریاب له مخه دغه معنې راوړي !

” بشپړ: تمام، پوره ، مکمل ، ټول ، کافي“[2]

هم پۀ دغه ډول د دریاب نه پس فېروز لغت هم دغه لفظ پۀ لږ بدلون سره هم پۀ دا ډول راخستي دے ـ

”بشپړ: پوره ، کامل ،تمام“[3]

د دې هر څۀ نه پرته چې مونږ ئې تر ټولو مستند ګڼلې شو هغه د پښتو اکېډمی لغت دے کوم چې اوس اوس چاپ شوے دے پۀ هغې کښې دغه لفظ پۀ نوره هم ښه معنیٰ کښې مخې ته راغلے دے چې لیکلي ئې دي ورته ” بشپړ : کامل ،پوره“[4]

کۀ چرې د پښتو د دغه دریو مستندو لغتونو دغه معنې مونږه پۀ نظر کښې وساتو نو دلته به د خوشحال خټک د ”بشپړه سړي“ معنه پۀ لفظي اعتبار سره رڼا شوې وي تفصیلي بحث به ئې پۀ اصطلاحي مفهوم سره نور هم پۀ ښۀ ډول بیان شي ـ خو راځو دې خبرې له چې د ”بشپړ“ د پاره به مونږه پۀ انګرېزي کښې کوم تورے پکارولے شو ـ له دې وجې چې مونږه کۀ دغه د ”بشپړ“ معنې، پوره ،کامل، مکمل، ټول ،کافي او تمام راخلو او پۀ پښتو کښې ئې پۀ خپله پۀ ”بشپړ“ باندې تماموو نو باید چې انګرېزئ کښې د دې ټولو د پاره یو جامع لفظ مونږه پۀ نظر کښې وساتو چې د هغې د پاره د ټولو نه غوره لفظ د AMPLE پکار راوستي شو ـ ولې چې دغه د Ample تورے پۀ خپله ځان کښې دغه معنې رانغاړي ـ کوم چې د انګرېزي ژبې د مستند لغتونو پۀ رڼا کښې څرګندې دي ـ پۀ دې حواله Oxford لغت د Ample توري ته څۀ دا معنې ورکوي ـ

> “**Ample**: Generous or more than adequate in size scope or capacity \ Generous Sufficient to satisfy a requirement or need \[5]”

پۀ خپل ذات یا وجود کښې د ځایولو دومره غني چې د ضرورت نه زیات استعداد لري ـ

یعني هر هاغه څۀ چې پۀ ځان کښې یو شمېر صلاحیتونه ولري د انګرېزي ژبې Ample دے او د پښتو ژبې ”بشپړه“ دے ـ دغه ”بشپړه“ چې کله مونږه د عربئ پۀ لغتونو کښې ګورو نو لازمي ده چې عربي

لغتونو به د پښتو ''بشپړ'' لفظ نۀ وي څېړلے خو چې هر کله مونږه د انګرېزۍ Ample تورے د ''بشپړه'' د پاره غوره وګرځوۀ نو باید چې مونږه د Ample توري معنه پۀ عربي لغت کښې وګورو چې هلته څۀ وائي - پۀ Oxford English to Arabic لغت کښې د Ample توري ته هم دغه معني ليکلي شوي دي !

**'' رحب، متسع، فسیح : Ample ''[6]**

**''رياضت کوُنکے ، خواري کوُنکے او فراخه''**

د دې لفظونو د معنيو پۀ رڼا کښې مونږه سپينه کړه چې ''پشپړ'' يو داسې جامع لفظ دے چې د AMPlE ټولې معنې ځان کښې پۀ يو سر رانغاړي - يعنې کۀ فرض که د OXFORD لغت پښتو ته معني راتلې نو بايد چې AMPLE ته پکښې مونږه صرف ''بشپړ'' معنٰی وليکو - ولې چې يو خوا AMPlE پۀ ځان کښې ټولې معنې لري بلخوا ''بشپړ'' هم - پۀ عامو معنو کښې مونږه ''بشپړ'' جامع ته وايو چې د يو عمل ، د يو څيز يا د يو کردار ټوله پۀ ټوله يا ګڼ اړخيزه مطالعه وکړو نو ''بشپړه'' ورته وئيلې شي - له دې وجې د خوشحال خان خټک پۀ افکارو ''کليات او دستارنامه'' کښې چې د ائيډيل سړي کوم تصور دے هغه مونږه نۀ چې پۀ يوه خوبۍ ائيډيل ګرځوو بلکې د هغې هر اړخيزه مطالعه کوو له دې وجې دغه ائيډيل ته مو د خوشحال خان خټک د ''بشپړه سړي '' اصطلاح ورکړه -

د ''بشپړه سړي'' اصطلاحي مفهوم:

کۀ چرې د پښتون قام لرغوني تاريخ ته مونږ لاړ شو او د دې پلټنه وکړو چې ايا د دې پۀ تاريخ کښې داسې کوم شخصيات شته چې د دې قام د پاره ئې د يو ائيډيل يعنې د يو مثالي کردار نمونه وړاندې کړې وي نو زما خيال نۀ دے چې وي به - کۀ فرض کۀ پۀ زيرک نظر دغه مطالعه کوو او د پښتنو معلوم تاريخ چې د اريائي دور نه ئې ګورو نو يو ''زرتشت'' دے چې پۀ دې خاوره ئې خرپوسې کړې دي خو د هغۀ افکار چې د ''خير او شر'' پۀ فلسفيانه رموز کښې مخې ته راځي - دا بېله ده چې وروستو دغه افکار جرمن نطشے د ''اوبر مينچ'' پۀ بشپړ کردار کښې بيان کړي دي - مونږ کۀ هر څو پۀ زرتشت د خپلوۍ دعوه وکړو نو دا خبره خو سپينه ده چې زردشت د بلخ د خاورې پېداوار ؤ او سوچه اريائي نسل سره ئې تعلق ؤ- دا خبره هم سمه ده چې پښتانۀ د بلخ له ټاټوبي نه خوزېدلي نۀ دي نن هم هغه د ارياو قبيله د امو تر اباسينه ژوند کوي - خو دلته خبره دا ده چې زرتشت اريا ؤ- ولې دغه وخت پښتانۀ له ارياو د ''پکهت ، پخت، پاکتو او پاکتين شکل کښې نۀ و او لا يو جدا قام نۀ و ګرځېدلے نو ځکه مونږه کۀ زرتشت خپل ګڼو له دې وجې به ئې ګڼو چې هغه هم اريا دے او پښتانۀ هم له اريا نسل نۀ دي -

پۀ هم دغه تاريخ کښې دوېم پړاو د اسلام نه پس ته د امير کروړ راځي چې د غور باچا ؤ د امير فولاد زوے ؤ- د امير کروړ کوم نظم چې د وياړني پۀ توګه پټه خزانه کښې راغلے دے پۀ هغې نظم کښې څۀ نا څۀ نخښې شته چې مونږه ته يوه اشاره د بشپړه سړي متعلق راکوي - لکه د دغه نظم صرف اولنۍ مصرعه ده چې !

زۀ يم زمرے پۀ دې نړۍ له ما اتل نشته'' پۀ دې مصرعه کښې اتل لفظ او د د زمري علامت هم بايد چې د يو ائيډيل کردار اشاره کوي خو تر کومه چې د ''بشپړ'' لفظ معنې دي پۀ هغې به پوره نۀ وي - د امير کروړ نه پس د بايزيد انصاري ائيډيل کردار فقير او پير کامل دے ، دغسې د رحمان بابا مرد قلندر، د باچاخان خدائي خدمتګار او د شلمې صدۍ د جديد شاعرۍ مشترک پښتون زلمے هم مونږه مثالي کردارونه

ګڼلي شو ـ ولې دلته زمونږه هدف د خوشحال خان خټک د ائيډيل کردار ''بشپړه سړے '' دے چې په اصطلاحي مفهوم ئې رڼا اچوو.

خوشحال خټک د پښتو ادب يوه داسې سرمايه ده چې د هغۀ د عصر نه واخلي تر هغه عصره پورې تر څو چې د پښتو ادبيات ژوندي وي د دۀ افکار به نوې نوې څېړنو سره مخې ته راځي او پښتو به پرې سياله وي ـ خو شحال خان خټک چې په اولسمه صدئ کښې ئې ژوند کړے دے ـ هغۀ چې څنګه پښتنو ته د قامولی، سياسي شعور او جغرافيې درس ورپه ګوته کړے دے دغسې ئې ضرورت ګڼلے دے چې پښتنو ته يو داسې کردار په خپلو افکارو کښې وړاندې کړي چې هغه د دوي د پاره مجسم کېدے هم شي او د دوي د ټولنيز نفسياتو د پاره به د پيکر کار هم ورکوي ـ د ''پشپړه سړي '' په کردار کښې د اولسونو قامي تشخص ، اخلاقي نظام،سياسي عمل ، شعور او خپلواکي د راروانو نسلونو د پاره بل مثال ګرځي او د خپل عصري ټولنې اصلاح هم کوي ـ

په دغه حواله چې مونږه د خوشحال خان خټک افکارو ته راځو نو د هغۀ په نظم ''شعري کلياتو'' کښې او نثر (دستارنامه) کښې د بشپړه سړي يو ائيډيل تصور پروت دے کوم چې تر دا وخت په اکادمي لېول يا د پشپړه څېړنې سره سم نۀ دے رامخې ته شوے ـ له دې وجې ما د خپلې موضوع د پاره دغه سړے وټاکو ـ د خوشحال خان خټک په ژوند او ليکونو بنيادي کار مستشرقينو شروع کړے دے چې د خوشحال خان خټک نه دوه سوه کلونه پس ورته وئيلي شو. په دغه ليکونو کښې د کپتان مېجر راورټي د ''ګلش روه 1868ء'' او د ټي پي هيوز ''کليد افغاني 1872ء" د ستائنې وړ دي ـ هم دغسې په شلمه صدئ کښې د ډاکټر خديخه فېروز الدين پي ايچ ډي مقاله ''د خوشحال خان خټک ژوند او فن 1940ء'' او ورستو د هند د تقسيم نه پس يو شمېر ليکونه راغلي چې پکښې د علومو اکادمي کابل او د پښتو اکادمي پېښور پوهنتون کار د زکر وړ دے ـ خو تر کومه پورې چې زما لوسته ده تر 1960ء پورې چې په خوشحال څومره هم کار شوے دے په دې کښې د دۀ دائيډيل انسان ''بشپړه سړي'' باندې کار نۀ دے شوے ـ او کۀ شوے هم دے نو د ''بشپړه سړي'' پوره اقدار نۀ دي څېړلي شوي ـ په دا حواله د عبدالرؤف بېنوا ليک ''خوشحال خټک څۀ وائي'' 1948ء کښې دغې طرف ته په اول ځل اشاره شوې ده چې پکښې ځينې مقالې د دغه عنوان لاندې دي : مېړنے څوک دے ؟، مېړنے به د خپله قوله نۀ اوړي، د مېړني لړ وئيل ډېر کول وي، مېړنے به خپل پت ساتي، مېړنے به سخي وي، مېړنے به ريښتين وي، مېړنے به لوړ همت لري ـ د استاد بېنوا صېب دغه هڅه د اوليت مقام لري زما په خيال په ضد کښې ئې په پښتونخوا کښې مېشته ليکوالانو ننګيالے متعارف کړو دغسې د خوشحال خان خټک بشپړه سړے تس نس شو.

د دې نه وروستو يوه مغالطه دا راولاړه شوه چې د پاکستان رياست چې په دوه قومي نظريه باندې په وجود کښې راغے نو د ځان سره ئې د قومي شاعر په توګه ستر شاعر علامه محمد اقبال متعارف کړو. د علامه محمد اقبال په قومي شاعر ګرځولو سره په ملک کښې د اقبالياتو څانګې پرانستې شوې کومو کښې چې اکثر څېړنې د نوې دوه قومي نظرئې لاندې شروع شوې ـ په صوبه سرحد (موجوده خېبر پښتونخوا) کښې دغه د اقبالياتو اثر ډېر په تېزئ سره خپور شو چې د هغې په نتيجه کښې زمونږه ځينې ليکوالانو د دوه قومي نظرئې د لاندې د اقبال سره سم خوشحالياتو طرف ته رجوع وکړه او ځينو په دغه عمل کښې په شعوري ډول کار شروع کړو. کوم کار چې په اقبالياتو کښې کېدو هم هغه کار په خوشحالياتو کښې شروع شو ـ د دغې اثر لاندې کۀ په اقبال او جمالياتو مقاله راغله نو په خوشحال او جمالياتو هم کار تر سره شو. هم په دغه ډول د اقبال ائيډيل کردار '' مرد مومن'' د يوې خاص بيانيې د پاره مخې ته راغے

چې د هغې پهٔ تناظر کښې د خوشحال خان خټک د پاره هم د يو ائيډيل کردار ضرورت محسوس شو ـ هم پهٔ دغې ترس کښې د پښتنو د ځينو پوهانو له خوا د خوشحال خان خټک ائيډيل کردار ''ننګيالے‘‘ وګرځېدو. د خوشحال د ائيډيل کردار ننګيالي ګرځولو د پاره د هغهٔ د دغه يو شعر نه پوره استفاده پورته شوه !

''د افغان پهٔ ننګ مې وتړله تُوره
ننګيالے د زمانې خوشحال خټک يم‘‘[7]

د دې سرخېل د ارمغان خوشحال خان ختک مقدمه ليکونکے سېدالرسول رسا وګرځېد چې ننګيالے ئې خوشحال ائيډيل تصور منتخب کړو ورستو دغه ننګيال پهٔ عام ادب کښې زما پهٔ خيال غلط الاعام مقبول شو. سوال دا پورته کېږي چې د خوشحال ائيډيل کردار صرف ننګيال ولې شو ځکه چې ننګ د پښتونولی يو وړوکے غوندې قدر دے ولې د پښتونولئ د ساتلو تقاضې نورې هم شته دے ، د ننګ، غېرت، پت، مړانه ، مېړنے، تورزن، جرګه مار، سردار، د دستار سړے، رښتونے ، زمريالے او وغېره غوندې نور خاصيتونه ولې بيان نهٔ شول ـ پهٔ دې حواله د فلسفې د څانګې زده کوُنکے طلال بېدار پهٔ خپل ليک کښې وائي !

> ''پهٔ خوشحال خټک پورې د تړل شوي بشپړه سړي تصور ننګيالے دے کوم چې به پښتنو د پاره نوے نهٔ وي ـ ننګ د پښتونولئ يو قدر دے چې پهٔ دې باندې پوره سړي ته ننګيالے وئيلے شي چې خوشحال خان خټک پهٔ خپله شاعرئ کښې ځاے پهٔ ځاے ستائيلے او ياد کړے دے خو د دې هر ګز مطلب دا نهٔ دے چې دا د هغهٔ رغ کړے شوې سړے دے ـ مونږ د ننګيالي زکر د غني پهٔ شاعرئ کښې هم ډېر ليدے شو او هم داسې د پښتو د ډېر شاعرانو پهٔ شعر کښې چې مونږ ورته د ''ننګ‘‘ قدر مخ پهٔ وړاندې وړونکي وئيلي شو خو د دې تصور رغونکي ورته نهٔ شو وئيلي‘‘[8]

دلته دا خبره کول هم مهم دي چې زهٔ د ننګيال مخالف هر ګز نهٔ يم خو دا ده چې ننګيال د خوشحال خان خټک د بشپړه ائيډيل تصور غوښتني نهٔ پوره کوي ـ ولې چې ننګ چې پهٔ پښتونولئ کښې ځانله يو قدر دے کوم چې خپل خصوصيت لري ـ خو ننګ ته مونږه بشپړه سړے نهٔ شو وئيلے ولې چې بغېر د څهٔ دليل يو نيمګړي څيز ته د پوره نوم ورکول دي ـ پهٔ خوشحالياتو چې اول کښې څومره هم کار شوے دے تر 1960 ء پورې تر هغې ننګيال ته چا هم د خوشحال ائيډيل نهٔ دے وئيلے تر دې چې پهٔ 1951ء کښې چاپ د دوست محمد خان کامل کتاب ''خوشحال خان سوانح و حيات‘‘ کښې هم داسې څهٔ ذکر نشته ـ مير عبدالصمد پهٔ خپل کتاب ''خوشحال اور اقبال " چې پهٔ 1960 ء کښې چاپ دے هم د ننګيال هيڅ زکر نهٔ دے کړے ، بلکې دهٔ د خوشحال دغه ائيډيل ته د خوشحال انسان وئيلي دي ـ پهٔ دغه کتاب کښې د (خوشحال خان و اقبال کے تصور کا انسان) مضمون تول هم پهٔ دغه ائيډيل تصور دے چې ننګيال پکښې د سره نهٔ دے رامخې ته شوے ـ مير عبدالصمد ليکي چې

> ''خوشحال اور اقبال کے تصورات کا انسان بالکل ايک ہے اس سلسلہ ميں خوشحال خان کے مطالعے سے يہ بھی معلوم ہوگا کہ خوشحال اور اقبال نطشے کا خيالی سپرمين پيش نہيں کرتا بلکه ايک ايسے انسان کا تصور پيش کرتا ہے جس کا وجود ممکن ہے۔‘‘[9]

د خوشحال او د اقبال د د انسان تصورات پهٔ يو ډول دي پهٔ دې مطالعه کښې به تاسو ته مخې ته راشي چې د خوشحال خان او اقبال د خيالي سپرمېن تصور نهٔ وړاندې کوي بلکې د يو داسې انسان وجود وړاندې کوي د کومې وجود چې ممکن دے ۔

د دې اقتباس نه زما خبره سپنېږي چې د خوشحال خان خټک ننګيال ورستو راغے کوم چې پهٔ 1967ء کښې د ارمغان خوشحال پهٔ مقدمه کښې د سېد الرسول رسا له خوا وړاندې شوے دے او او د کابل د ''ننګيالے پښتون'' پهٔ سيمنار کښې د پرېشان خټک له خوا مخې ته راغلے دے ۔ هم دغه هڅه ئې پهٔ نظر کښې ساتلې ده چې د خوشحال ننګيال د اقبال د مرد مومن پهٔ تناظر کښې بيان کړي او هم هغه د دوه قومي نظريې پلوي ئې وګرځوي چې دا د خوشحال خټک تصور پهٔ ورکو دايرو کښې بندول دي ۔ دا کوشش پهٔ داسې ډول هم نهٔ دے چې ګنې مونږه ورته غېر شعوري هڅه ووايو بلکې دا پهٔ شعوري ډول شوےدے چې نهٔ پکښې څهٔ تقابلي جايزه مخې ته راغلې ده نهٔ ادبي رويه ۔ د خوشحال د ننګيال متعلق چې محترم سېد الرسول رسا صېب ، پرېشان خټک او مير عبدالصمد کوم فکر لري د هغې بنيادي مقصد هم دغه دے چې خوشحال يا خو د اقبال نه کمتر ثابت کړي او يا کمتر نهٔ وي چې ثاني ئې وګرځوي ۔ پهٔ دې حواله دلته زهٔ هيڅ نتيجه لا نهٔ ورکوم چې څوک لوي دي او څوک نه خو د يوې تقابلي جايزې نه پس امکان ممکن دے چې خبره وشي ۔ راځو دې خبرې له چې ننګيال نه نو ''بشپړه سړے'' ولې ؟۔

ما پهٔ لفظي اصطلاح کښې د ''بشپړه'' پهٔ معنه او مفهوم رڼا واچوله چې مطلب ئې هغه سړے دے چې هغه به د ډېرو خوبيو نه ډک وي او د عامو انسانانو نه به پهٔ دغه حواله ځانګړتياوې لري ۔ يو خوا مونږه دې ته د جامع سړي معنه هم ورکولے شو يا د کامل سړي خو د ''کامل'' معنه داسې ده چې هغه پهٔ خپل ځان کښې مکمله ده او دغه کلمه پهٔ عامه معنه کښې د صوفيانو د تصوف د مرحلو نه وتے هغه سړے دے څوک چې د ''کُل'' پهٔ مرتبه ولاړ دے او دغه مرتبه د ''انسان کامل'' پهٔ جامه کښې خاص د پېغمبر پاک (ص) د پاره وضع شوې ده ۔ پهٔ دې لړ کښې ما د ''خوشحال انسان کامل '' يا د ''خوشحال کامل سړے'' غوندې اصطلاحاتو نه ځنډه وکړه ۔ بل طرف ته انسان پهٔ خپله داسې لفظ دے چې پهٔ ادائيګۍ سره ئې د يو چا ذهن ته خو د سړي تصور راځي خو پهٔ بنيادي توګه پهٔ انسان کښې دننه مختلف جنسونه راځي چې پهٔ هغې کښې ښځه، سړے، نينزک، او لسبين هم راځي ۔ کهٔ چرې ما د خوشحال د بشپړه انسان اصطلاح استعمالوله نو بيا به مې د هر جنس پهٔ بنياد دغه څېړنه کول چې يا خو ممکن نهٔ وو او کهٔ ممکن وو نو دا يوه ځانله د پي ايچ ډي موضوع غواړي ۔

زما تر نظره ''د خوشحال د بشپړه سړي'' اصطلاح ډېره غوره وګرځېده چې پهٔ اول ځل پرې د ''پښتون'' مجلې د 2018ء د جنورۍ پهٔ ګڼه کښې د فلسفې سکالر طلال بېدار اصلزي يو مضمون ''د خوشحال بشپړه سړے او د اکېډميا جبر'' د عنوان لاندې مضمون چاپ کړے دے ۔ هم دغه زما د مقالې د اصطلاح سبب هم ګرځېدلے دے ۔

د ''خوشحال بشپړه سړے'' چې پهٔ خپل ځان کښې صرف د پښتونولۍ يو قدر ننګ نهٔ لري چې مونږه ورته ننګيال ووايو يا غېرتي وغېره ۔ بلکې دا بشپړه سړے پهٔ خپل ځان کښې کهٔ يو خوا د پښتونولۍ مشترک اقدار لري نو بل خوا چې دستار نامې ته راځي هلته ئې دغه تصور نور هم پهٔ ډاګه کړے دے ۔ پهٔ دستارنامه کښې دغه د خوشحال خان ائيډيل سړے چې د دستار سړے او سردار بللے شي د پاره خوشحال خان خټک شل هنرونه او شل خصلتونه ټاکلي دي ۔ پهٔ دې حواله د عبدالکريم بريالي ليک ''د مارشل

خوشحال فن“  زما د خبرې دليل جوړېدې شي خو د هغوي دغه کوم پېراګراف چې زهٔ نقل کوم شايد چې ځنې خبره ئې مبالغه وي ولې کوم چې د خوشحال د بشپړه سړي خاصيتونه دي هغه پهٔ دې ډول بيانوي ۔

”د فن پهٔ اعتبار چې څهٔ خارجي خاصيتونه دي هغهٔ ټوله پهٔ ټوله د خوشحال بابا پهٔ کلام کښې موندلې کېږي او د شخصيت رنګ ئې د سردار، خان ، مصلح، سوشل ريفارمر، خودشناس، مېړهٔ، جنګيالے، توريالے، عالم، فاضل، ملا، سياست دان، عمرانياتو ماهر، د طب پوهاند، پت پال، پهٔ معاملاتو پوهه، د فطرت او قدرتي اثارو پهٔ زړهٔ پورے مشاهده کونکے، د نباتاتو ماهر، پهٔ پښتني رواياتو او مذهبي رواياتو باندې ټينګ، سخ، د جمالياتي محرکاتو سرخېل، د اخلاقياتو ارسطو، د نفسياتو فرايډ، د جنسياتو ژرف بين، د پلان جوړولو متحصص، جري انسان، فولکلورسټ، د نازکو احساساتو خاوند ، د ښکارياتو ماهر، د بازونو ساتندويه، د بندي خاني د يو اسير د احساس ترجمان، زبان دراز، د غورځنګونو د پاره کله سنګر، د چپاونو سکندر او د ټول ژوند د اسائشاتو او د زخمونو اظهار يو مجسم او متحرک تصوير غوندې هر ډول ځلانده دے۔“[10]

بل طرف ته د دغه ”بشپړه“ د پاره ما د Ample اصطلاح ځکه وګرځوله چې د داسې کردارونو د پاره پهٔ انګرېزي ادب کښې يوه د Super Man اصطلاح موجوده ده خو دغه اصطلاح د جرمن نطشے د ”اوبر مېنش“ نه وتې ده او خپل رنګ لري ، دلته دغه اصطلاح د خوشحال سره مونږه ځکه نهٔ شوه پکارولې چې د خوشحال چې کوم ائيډيل تصور دے هغه د هغهٔ د خپل قام او خپلې خاورې پېداوار دے ولې د نطشے سپر مېن يو مافوق الفطرت تصور دے نو له دې وجې هغه د خوشحال د بشپړه سړي نه مختلف دے ۔
د خوشحال ”بشپړه سړي“ د پاره ما د ايمپل اصطلاح پهٔ دې غرض هم خپله کړه چې دغه د خوشحال سړے عام سړے نهٔ دے بلکې د ډېرو خوبيو څښتن دے او له دغه خوبو له وجې ورته مونږه ايمپل مېن Ample man وايو۔

# حوالې


1 :دیوان عبدالرحمان ،پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون ، ۱۹۸۷ء، مخ ۱۵۰

2 : پښتو لغت دریاب، مؤلفین قلندر مومند ،فرید صحرائي ، آین ډبلیو ایف پي ټیکسټ بک بورډ پېښور،۱۹۹۴، مخ ۱۵۳

3 : ظفرالغات، مؤلف بهادرشاه ظفر کاکاخېل ، اداره اشاعت سرحد قیصه خواني بازار پېښور، مخ ۱۲۹

4 : پښتو ژبه ، دریم جلد، مؤلفین پردل خان خټک، مولوي محمد اسحاق، پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون، ۱۹۷۱ء،مخ ۲۲۸

5 : Longman Dictionary of the English language, Great Brittan by WM, 1984, page No: 104

6 : The Oxford English – Arabic Dictionary of currant Usage ,Edited by N. S. Doniach , Oxford at the Clarendon press, 1984, Page No:42

: د خوشحال خان خټک کلیات ،مرتب ، سېد محي الدین هاشمي ، ۲۰۱۸ء، مخ ۶۹۰7

8 : اصلزے، طلال بېدار ، د خوشحال بشپړه سرے، میاشتنۍ پښتون جنوري ۲۰۱۸ء ، مخ ۷۲

9 : میر عبدالصمد خان، خوشحال اور اقبال، منظور عام کتب خانه پشاور، دسمبر ۱۹۶۰، مخ ۱۶۷

10 : بریالے ، عبدالکریم،مارشل خوشال میاشتنۍ پښتو خوشحال نمبر، پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون، ۱۹۸۰ء، مخ ۱۳۹